داسلام دستر لارښود رحمت للعلمين حضرت محمدالامين (ص) مبارك ميلاد ټول مسلمان ملت اواسلامي امت ته بختورغواړو.

هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

الحاج حقانی روسیی ته دمجاهدینو دهیات له لیږلوسره مخالفت څرګند کړ

میرانشاه :
دهیواد دجنوبی محاذونو نومیالی قوماندان الحاج مولانا جلال الدین حقانی روسیی ته دمجاهدینو دیوه هیات تلل وغندل او هغه یی نامناسبه اقدام وباله .
الحاج حقانی د یوه رادیویی پیغام په ترڅ کی وویل:پداسی شرایطو کی چی روسان دکابل رژیم ته دوسلو په لیږلو سره زموږ په هیواد کی دوینو تویولو ته دوام ورکوی ـ
اوهره ورځ زموږ بی شمیره هیوادوال وژل کیږی داډول سفردمنلو وړندی .

حملات مجاهدین «کابل» برمراکز دشمن

به اساس گزارش دفتر سیاسی شورای قوماندانان مجاهدین ولسوالی شکردره طی حمل برپوسته های کوتل خیرخانه یك پوسته را فتح ۳ تن افراد رژیم را هلاك و ٤ تن دیگر را اسیر نمودند .
همچنان طی حمله مشترك مجاهدین بر پوسته های خورد کابل روز ۲۳ سنبله دوعراده تانك زرهی رژیم را حریق نمودند .
به همین ترتیب طی حمله دیگر روز ۲٤ سنبله پوسته های مناطق تالوخیل ، توره توکی عثمان زیی رامورد حمله قرار دادند ، ۳. عراده تانك رامنهدم نمودند ، واسلحه کافی به غنیمت بردند.

دوهم کال ، دوهمه گڼه پرله پسي (٥٤)گڼه چهارشنبه د۱۳۷۰ هـ ش دمیزان ۳مه ، د۱٤۱۲ق دربیع الاول ۱۷مه ، د۱۹۹۱م دسپتمبر۲٥مه

الحاج مولوي جلال الدین حقاني دمجاهد غږراډیو له خبریال سره په مرکه کي :

روس اوامریکا ظالم اومظلوم ته په یوه سترګه ګوري دادمجاهدینو په حق کې لوی تیری دی

په (۲)مخ کي

دامریکا الوتکو ته پر عراق دالوتنې اجازه ورکړل شوه

دملګرو ملتو هیأت ته دنظامي مراکزو له ښودلو څخه دانکارپه صورت کي به الوتني ترسره کیږي

په (۸) مخ کي

زه ولې مسلمان شوم؟

په پنځم مخ

په ګردیز باندې دمجاهدینو ګډ عملیات پیل شول

ددښمن مرکزونو باندې دمجاهدینو ددرنو وسلو ډزې

په (۷) مخ کي

سیل مهاجرین جدید الورود به پاکستان

علت این مهاجرت ها بلند رفتن قیمت مواد اولیه زندگی است

در صفحه ۷

امکان تشکیل یك کشور متحد وآزاد در آسیاي میانه

(٥) جمهوریت مسلمان نشین آسیاي میانه کشور متحدي بنام «ترکستان» راتشکیل خواهند داد

در صفحه (۸)

ده‌دا ئینه لمر

دحضرت محمد مصطفي (ص) دمبارك میلاد په مناسبت :

۳ مخ کي

۲۰ تن از افراد رژیم درسمنگان از بین رفتند

سمنگان ، میدیا :
مجاهدین دلیر ولایت سمنگان طی حملات متعدد خویش برپوسته های امنیتی ولسوالی خلم وشهرایبك ، همچنان طی یك کمین گیري دریك کیلومتری شهر ایبك جمعاً ۲۰ تن از افراد دشمن را هلاك ٤ عراده تانك زرهی دشمن راطعمه حریق یك پوسته را تخریب و ٥ تن از ملیشه ها را همراه با یك عراده موتر جیمپ روسی به اسارت در اورده اند .
درراپور از بمباردمان انتقامی دشمن نیز یاد اوری شده است .

دحضرت سلمان فارسي (رض) دغونډقوماندان حاجي معافي خان دجهاد هنداري له خبریال سره په مرکه کي:

دوسلې بندول پرمجاهدینو هیڅ تاثیر نلري ، ځکه له مجاهدینو سره دایمان او عقیدې وسله شته

په ۳ مخ کي

سرمقاله

دجهادپه پوځي ډګرکې نوې جذبه اوتحرك

دمتحدو او هراړخیزو عملیاتو پیلامه

دجهادی سنګرونو دیو شمیر نومیالیو اواتلو قوماندانانو دنوښت اوهلو ځلو په نتیجه کی دټول هیواد په سطحه دقوماندانانو دسرتاسری شورا دجوړیدو اوددغی شورا په غونډو کی دشویو پریکړو او فیصلو دپرله پسی عملی کیدلو په نتیجه کی دجهاد په پوځی ډګر کی دبیلابیلو عواملو له امله رامنځته شوی نسبی رکود مات ، دجهاد په لیکو کی نظم اوپه مجاهدینو کی نوې جذبه او تحرك رامنځته شو اوداسی مثبتی اغیزی ترې مرتب شوې چی هیڅوك تری سترګی نشی پټولای .
دسږکال په لومړیو کی دخوست ستره ویاړمنه فتحه اوبیا وروسته دهیواد په شمالی،ختیځو،لویدیځو اومرکزی سیمو کی بریالی عملیات اوستری فتحی دهمدغی شورا دپریکړو په بریمنه توګه دسرته رسولو اوعملی کولو نتیجه ګڼلی شو .

په ۸ مخ

صاحب منصبان بلند پایه اردوی رژیم ازوظیفه فرار می کنند

درصفحه ۷

مولوي صاحب محمد یونس خالص روسیی ته دمجاهدینو دهیأت له تللو سره مخالفت څرګند کړ

مولوي صاحب وویل،کیداي شي په یوه دریم ګړي هیواد کي دمجاهدینو او روسانو تر منځ خبري اترې وشي په ۸ مخ

دملګرو ملتوسازمان ته پکاروو چې اول یې نجیب اودهغه رژیم په افغانستان کې دداوولس کلن خونړۍ جنګ عامل اودد ټولو ورانیو،وینې تویولو اوفسادونو دمجرم په توګه پېژندلی وای. (الحاج حقاني)

جهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

ماسکهای فریبنده مزدوران روسی درکابل

عبدالوکیل

مزدوران روس قبل از کودتای خونین ۷ ثور ۱۳۵۷ به اشکال گروه های خلق ، پرچم وگروهك های دیگری که از گروه های مذکور انشعاب نموده بودند مانند گروهك طاهر بدخشی ، افق ، استوار... ظاهر گردیدند . اینها به طرفداری از کمونیزم ادعای وطن دوستی ، ترقی ، دموکراسی وهومانیزم (بشر دوستی) رامی نمودند ولی بعد از کودتاً مذکور زمانیکه این کمونستها قدرت سیاسی را در افغانستان غصب نمودند چهره های اصلی آنها به مردم مسلمان وآزادی دوست افغانستان نمایان گردید وعملاً علیه اسلام ، استقلال کشور ، دموکراسی وهمه ارزش های مادی ومعنوی مردم مسلمان وغیور این سرزمین اسلام وآزادی قرار گرفتند. مردم مسلمان افغان بخاطر نابودی این فتنه کمون به پاخاستند ، برضد آنها جهاد مسلحانه را آغازنمودند .

زمانیکه روس ها در ٦ جدی ۱۳۵۸ بخاطر نجات مزدوران وپیاده نمودن پلان هاءاستعماری خویش درکشور افغانها مداخله نظامی نمودند ، برای فریب مردم مسلمان افغانستان رنگ سرخ بیرق به اصطلاح ملی افغانستان را به‌رنگ هاٴسیاه، سرخ وسبز تبدیل نمود ونام های سازمان خلقی جوانان رابنام سازمان دموکراتیك جوانان ، سازمان خلقی زنان رابنام سازمان دموکراتیك زنان تغیر دادند ویه یك سلسله تغیرات شکلی وفریبنده دیگر دست زدند اما بعد از فرار قوای نظامی روس از افغانستان و روی دست گرفتن تاکتیك جدید سیاسی یعنی اعلان سیاست گلاسنوست که از خطرناك ترین مانور های سیاسی روس بشمار می اید، سیاستمداران کریملین به تغیرات سیاسی ظاهری وشکلی درتمام ساحات سیاسی و اجتماعی رژیم کابل اقدام نمودند . روس ها ومزدوران حلقه بگوش آنها پروسه نیرنگ وفریب مردم افغانستان را ادامه دادند ونام های جمهوری دموکراتیك افغانستان رابه جمهوری افغانستان ، سازمان دموکراتیك زنان‌رابه سازمان زنان ، سازمان دموکراتیك جوانان رابه سازمان جوانان حزب دموکراتیك خلق را به حزب وطن... تغیر دادند ولی خطرناك ترازین اعلان فلورالیزم سیاسی یابه اصطلاح سیستم چند حزبی وسهیم ساختن اشخاص به اصطلاح بی طرف واحزاب مخالف حزب وطن !!؟ در دستگاه حکومت میباشند.

احزاب وسازمان های سیاسی ایکه بعد از اعلان به اصطلاح فلورالیزم سیاسی توسط رژیم کابل به رسمیت شناخته شده است ومنحیث مخالفین سیاسی حزب وطن درسیستم چند حزبی مذکور سهیم هستند اکثریت آنها به دستور کی ، جی ، بی از طریق ریاست هفت «واد » بوجود امده اند وباقی مانده آن سازمان های هستند که قبل از کودتای ۷ ثور ازخلقیها و پرچمیها انشعاب نموده بودند وروس ها از اوان تشکیل این سازمانها به آنها روابط جداگانه داشتند . گروه هك های مذکور نیز نه توانستند مردم مسلمان

په (۷) مخ کې

روس اوامریکا ظالم اومظلوم تـه پـه یوه

سترګه ګوري دادمجاهدینو په حق کی لوی تیری دی

پوښتنه : لکه چی ګورو په دی وروستیو کې روس او امریکا دی فیصلـه تـه رسیدلی چي دافغانستان دقضیی پـه دواړواړخونو باندی وسله او مرستی بندی کړی کـه مهربانـی وکړی اوپدی هکله خپل نظر څرګند کړی ؟

ځواب :

بسم الله الرحمن الرحیم نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد !

> په دواړو خواوو دمرستو بندول داوربند مسئله اوپه عبوري دوره کې دوسیع البنیاده حکومت جوړول دمجاهدینو لپاره دمنلو وړنه دي

دروس او امریکا دغه موافقه دملګرو ملتونودسازمان له خوادوړاندی شوی پنځه فقره ایزه پیشنهاد یو جز دی ، زما پـه نظر دملګرو ملتو سازمان دغه پیشنهاد اوددغه پیشنهاد یو جز په توګه په دواړواړخونو باندی دوسلی دبندښت موافقتنامه داډیر ظالمانه اوغیر عادلانه تصمیم دی.

دروس اوامریکا پرته لدی چي دافغانستان ددیارلس کلنی جګړی اصلی عاملین وپیژنی ، اودنجیب مزدور رژیم ددغه جګړی دعامل په حیث وبولی ، اودظالم اومظلوم تفریق وکړی، ظالم او مظلوم ته په یوه سترګه ګوری دا دمجاهدینو په حق لوی تیری دی .

دملګروملتوپدی پنځه فقریزه طرحه کې هم څه داسی مواد شته ، دمثال په ډول په دواړو خواوو دمرستو بندول داور بند مسله اوپه عبوری دوره کې دیوه وسیع البنیاده حکومت جوړول دمجاهدینو لپاره دمنلو وړندی .دملګرو ملتو سازمان ته په کاروو ، چې اول یی نجیب اودهغه رژیم په افغانستان کې ددولس کلن خونړی جنګ دعامل اوددی ټولو ورانیو ، وینی توئیدو اوفسادونو دعامل اومجرم په توګه پیژندلای وای ، په هغی یي مرستو دبندولو مطالبه کړی وای ، له هغه وروسته کله چې دنجیب مزدور رژیم له منځه تللی وای ، بیا دمجاهدینو له خوا په خپله اوربند ، اودمرستو بندیز عملی کیدای شوای .

اوداچې دوی (دملګرو ملتوسازمان) اوس داوربند مطالبه کوی داغیر عادلانه اوغیر واقعبینانه مطالبه ده او زموږپه نظر دا قضاوت یو اړخیز دی ، دا دنجیب دمزدور رژیم اودروسانو په خوښه باندی جوړی شوی فیصلی دی .

دملګرو ملتوسازمان باید حق تـه وګوری اوپـه دی وپوهیږی چې څوك دمرستو مستحق دی اوپه چاباندی باید مرستی بندی کړای شی ، دجنګ عاملین څوك دی ،ددومره ورانیو اودومره انسانانو دوژل کیدو دسلګونو زرګونو کونډو ، رنډو،یتیمانو ، معیوبینو،په ملیونونو بی کوره شوو ، مهاجرینو ددر بدری مسول څوك دی ؟ اوپه آینده کې به ددی ټول مسئولیت دچاپه غاړه وی ؟ موږ نه پوهیږو دملګرو ملتو سازمان ولی پدی سترګی پټوی ؟

پـه هرصورت دااعلانونه اودوسلو بندیدل به په هغو کسانو تاثیر کوی چې دنجیب پـه شان دبهرنیو هیوادونو په مرسته اوملاتړ دقدرت طلبی لپاره جنګیږی داقیصله پر هغومجاهدینو چې جګړه اوجهاد یي دالله تعالی (ج) پـه توکل ، دخدای ددین لوړاوی پـه خاطر پیل کړی اودخدای (ج)په امر باندی جنګیږی ، هغه ددی مرستو دبندیدلو څخه دومره نه متأثرکیږی ، هغوی پدی یقین لری چې ترکومه وختـه الله (ج) پر موږ جهاد فرض کړی ، ترهغه پوری به الله (ج) موږ اکمالوی ترڅو چې دخدای (ج) دروازه پر موږ بنده نه وی ، دخلکو ددروازو په بندیدلو موږ نه رټل کیږو اونه دازموږ په روان جهاد باندی څه تاثیر غورځولای شی .

پوښتنه : دخلکو سره داسی فکراونظریه وه چې دخوست ترستری فتحی وروسته به خدای پاك ډیر ژر دګردیز فتحه هم مجاهدینو ته په برخه کړی ، دګردیز دفتحی دځنډیدو له امله دخلکو سره یو لړ فکرونه پیداشوی که مهربانی وکړی اوپدی هکله معلومات ورکړی ؟

ځواب : حقیقت دادی چې دانسان اراده دخدای تعالی (ج) په ارادی پوری تړلی ده اوهرڅه پـه خپل ازلی تقدیر اووخت باندی سرتـه رسیږی اوکه موږ هر څوهلی ځلی وکړو نو تر هغـی پوری څه نـه کیږی ترڅو چې دالله (ج) له طرفه په ازل کې ټاکل شوی وخت نه وی رارسیدلی . دخوست دفتحی لپاره هم پوره دولس کاله هلی ځلی شوی وی ، څرنګه چې هغه مقدر وخت نـه وُ رارسیدلی ، نو ځکه هغه ناکامه کیدلی چې کله مقدر وخت راورسید نوالله تعالی (ج) اسباب ورتـه مهیاکړل اوخوست فتحه

> ترڅو چې دخداي (ج) دروازه پر موږ بنده نه وي دخلکو ددروازو په بندیدلو موږ نه رټل کیږو.

شو.نودګردیز په هکله هم دخلکو ارزو اواراده داوه چې دخوست سره جوخت پر هغی هم جنګ شروع شی اوکیدای شی هغه فتحه شی خو موږ ته اوس معلومه شوه چې داتراوسه پوری خدای پاك زموږ په تقدیر کې نه وو لیکلی ، اودراتلونکی هم خدای (ج) ته پته ده چې کله به دافتحه کیږی .

بیاهم دومره ویلای شو چې دګردیز دنویو محاذونو جوړول اوپه غرونو کې دنویو لارو جوړول اودمجاهدینو ټول هغه اکمالات چې دخوست پدی ۱۲ کلن جنګ: کې یي استعمال کړی دی ، ددی ټولو هلته انتقالول اومتمرکز کول ، دمحاصری دیوی کړی جوړول ، هغه ټانکونه اوتوپونه چې په غنمیت نیول شوی دهغی ترمیم اوځای پر ځای کول ، داحتمالًیوی مودی ته اړتیا لری ، هغه وخت پدی کارونو باندی تیرشو اوس دی خدای (ج) وکړی چې هغه شیبه راورسیږی چې مجاهدین دګردیز په ښار په متفقه ډول او متحدانه عملیات زر تر زره پیل کړی.

پوښتنه : دخوست په تاریخی فتحه کې تر نورو تکتیکونو علاوه چې په کار واچول شول ، دمجاهدینو له خوا اعلان شوی عفوه ګټوره ثابته شوه ، دګردیز دخلکو لپاره هم داسی څه پروګرام لری ؟

ځواب : دګردیز خلکو ته هم موږ څو څو ځله دلیکلو اعلامیو له لاری اوهم دراډیو له لاری دعفوی اعلان کړی اودامو هم ورته ویلی چې دخوست دخلکو له حال څخه عبرت واخلی هغوی ته مو ویلی دی چې دموقع څخه استفاده وکړی خپل تصمیم ونیسی که دمجاهدینو دبرید سره یو ځای دښار له داخل څخه پر دښمن باندی برید پیل کړی یادمجاهدینو تر حملی دمخه تاسی دمجاهدینو پر ارتباط په داخل کې عملیات پیل کړی ، یادعملیاتوترمخه ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړی ، پدی ټولو حالاتو کې ستاسی دسراومال امنیت تضمین دی ، اوانشاالله موږ ددی تضمین کولای شو چې مجاهدین به ستاسی سراومال ته هیڅ ډول زیان ونه رسوی.

پوښتنه : محترم حقانی صاحب ! پـه پـای کې دافغانستان مجاهد ملت ، ته پدی حساسو شیبو کې څه

په (۷) مخ کې

دحضرت محمدمصطفي (ص) دنیکمرغه میلاد په مناسبت :

دهدایت لمر

محمد زبیر «شفیقي»

هلته چې دانسانی ژوندانه کاروان دجهالت اولار ورکی په تیارو کې په ورکیدو ؤهلته چې بشری ټولنی بیړی دعصیان په دریاب اودبغاوت په گرداب کې په ډوبیدو وه٠هلته چې دادم (ع) اولاد دخپل بابا له لاری نه په بله روان ؤ،هلته چې انسان دانسان غوښی خوړل پیل کړی وو،هلته چې دمینو پر ځای دوینو هنگامی گرمی وی،

هلته چې دبشری نړی پر بنې دشرك اوکفرتوپان راالوتی ؤ حضرت انسان دانسانیت او عزت لاره ورکه کړی وه، دوحشت اوبربریت په صحراکې لالهانده اوسرگردان ؤ،دوروور په وینو ورور میلی جوړی کړی وی ، دلونړو وژل اوژوندی خښول افتخار او ویاړ ؤ،ه اشرف المخلوقات دیوه خدای (ج) پر ځای تورو کانو ته دبندگی سرټیټ کړی ؤ او دخدای (ج) په کور کې باغی انسان ځانته ۳٦٠ مصنوعی خدایان درولی وو .

له نړی نه دشرف ،عزت ، ابرو ، عفت او حیا جنازه په پورته کیدو وه ، دجهالت راج ؤ دکفر اوبغاوت توره دوره وه دامن او ارامی کوتره په سلگو وه ، سمه،او غردوحشت تپوسانو نیولی وو اودخدای (ج) پر ځمکه دطاغوت اوشیطان دپیروانو حمکرانی وه .

ناڅاپه دخدای (ج) درحم

> نن موږ دخداي (ج) ددغه ستر پیغمبر اونازولي دمبارك میلاد لمانځنه کوو ، دهغه مبارك پیغمبر چي خداي (ج) رحمت للعلمین خطاب ورته کوي هغه پیغمبر چي دجهالت اوکفر تیارو ته یي دحق مشعلونه وځلول.

بحرپه څپو شو ، دخوښی نسیم راوالوت،دبشر پر خزان وهلی بڼ دپسرلی دراتگ زیری وشوه،دلار ورکی اوجهالت په تیارو کې دهدایت اولارښوونی لمر راوخوت ، دانسانی ژوندانه توپان ځپلی بیړی دنجات ساحل ته ووته .

دبیت الله په غولی کې بتان رانسکور شول دمکی په کوځو کې زیری وشول چې : دعبدالله کره زوی پیداشو هوکې ! محمد اخر زمان دنیا ته سترگی وغړولی،رحمت للعلمین پر دنیا پل کیښود دانبیاؤ سالار اوسردار دفانی نړی غیږه په خپل وجود ولمانځله ، دطاغوت پر هډوزلزلی گډی شوی دفارس دکسرئ کنگری ونړیدی او دروم دقیصر تخت راچپه شو ، هبل نسکور شو ، اوپر نړی دحق دراتگ زیری وشول دخدای (ج) نازولی او وروستی پیغمبر حضرت محمد مصطفی (ص) د ٦٧١ میلادی کال دربیع الاول په ۱۲ مه دبی بی امنی کره وزیږید ، دخپل مبارك عمر په ٤٠ کلنی دحرادغره په سمڅه کې دپیغمبری په خلعت ولمانځل شو اود۲۳ کالو په موده کې یې داسلام نورانی شغلی دحجاز له دښتو پوری وتلی دستر خدای (ج)حبیب ص په ۲۳ کلونو کې یو عظیم انقلاب راوست هغه ص داسی یاران وروزل چې په لنډه موده کې یې دخدای (ج) دین له ختیځه ترلویدیځه نړدی ټولی نړی ته ورساوه .

نن موږ دخدای (ج) ددغه ستر پیغمبر اونازولی دمبارك میلاد لمانځنه کوو ، دهغه مبارك پیغمبر ص خدای(ج) رحمت للعلمین خطاب ورته کوی ، هغه پیغمبر چې دجهالت اوکفر تیارو ته یې دحق مشعلونه وځلول اوله وفات وروسته یې دبشر دهدایت لپاره قرآن اوسنت پریښودل .

نن موږ دهغه پیغمبر ص دمبارك میلاد یادونه کوو چې دظلم اوجبر نه یې هجرت کړی ؤ اودکفر اوستم پر خلاف یې جهاد پیل کړی ؤ .

نن موږ دحضرت محمد مصطفی(ص) دمبارك میلاد لمانځنه په داسی وخت کې کوو چې په هیواد کې مو دهمغه پیغمبر پر دین دننگ جنگ روان دی .

زموږ په ملیونونو مومن هیواد وال دخپل محبوب پیغمبر دهجرت په سنتو قدم ایښی اودادی دکفر او طاغوت پر ضدیې دجهاد مورچلونه تاوده ساتلی دی .

نن بموږ دهجرت په خیمو اودجهاد په مورچلونو کې دخدای (ج) دنازولی او محبوب دمبارك میلاد ورځ لمانځو خو کاشکی چې موږ دهغه خواخوږی اومحبوب پیغمبرهغه وصیت هم عملی کړی وای چې فرمایلي یې دی :

« ماستاسی په منځ کې دوه شیان پریښودل چې که عمل وریاندې وکړی هیڅکله به بیلاری نه شی هغه دوه شیان قرآن او زما سنت دی »

دوسلې بندول پرمجاهدینو هیڅ تاثیر نلري ، ځکه له مجاهدینو سره دایمان او عقیدې وسله شته

مرکه کوونکې احمد ضیا «رحیمزي»

> دکفراوالحاد پرضد زموږ دمجاهد ملت دجهاددویاړلو سنگرونو دنومیالیو اواتلوقوماندانانو په ډله کې چې ویاړلي جهادي کارنامې به یې زموږ داسلامي انقلاب دتاریخ زرین بابونه اونه هیرېدونکي یادونه وي یوهم الحاج معافي خان دي چي دپکتیا ولایت اوسیدونکي اودځدرانو میرني قوم ته منسوب دي .
> دجهادهنداري خبریال له نوموړي سره دپکتیا په ولایت کي دجهاد اومجاهدینو داوسنې وضعې،دروانو سیاسي حالاتو په اړه یوه مرکه کړې چې درنو لوستونکو ته یې وړاندې کوو:
> اداره

پوښتنه : محترم قوماندان صاحب! دخوست تر ستری فتحی وروسته دنوموړی سیمی دامنیت او نورو چارو دسمبالښت لپاره مختلفی شورا گانی جوړی شوی ، ستاسی دغونډ مجاهدین پدی لړ کې څه وظایف سرته رسوی ؟

ځواب : هلته چې لاخوست فتح شوی نه وو ، او پر خوست باندی دگډو عملیاتو لپاره تیاری نیول کیده موږ ددی لپاره هم فکر کړی وو چې په څه ډول به عملیات سرته رسوو او تر فتحی وروسته به امنیت په څه ډول تامنیږی پدی کې دسلمان فارسی غونډ مجاهدینو، هم په تعرض کې ، هم دفتحی نه وروسته دامنیت په ساتنه کې مهم رول لوبولی دی ، کله چې خوست فتحه شو ، زموږ غونډ په هغه مهمومهمو ځایونو کې امنیت ونیو ، لکه په تخته بیگ ، میدان هوایی په پروژه اونورو داسی نظامی تاسیساتو کې چې هلته دحکومت ډیر مهم پوځی تاسیسات وو،د داسی ځایونو امنیت اوس هم زموږ دمجاهدینو په لاس کې دی او هغه وخت هم ، وروسته بیا محلی شوراگانی جوړی شوی ، محلی شوراگانو فیصله وکړه چې دخوست امنیت باید ونیول شی ددی لپاره دهر محاذ اوهری شوراڅخه ٥٠ کسان مؤظف شول ترڅو په کومو ځایونو کې چې کومه گډوډی منځ ته راځی ، یابی امنیتی منځ ته راځی ، دا دمحلی شوراگانو وظیفه ده چې هلته ځانونه ورسوی ، او هغه مشکلات په هماغه وخت کې حل کړی چې پدی ټولو کې دسلمان فارسی (رض) دغونډ مجاهدینو هم مهم رول لوبولی اولوبوی یی .

پوښتنه : لکه چې خبرشوو څه موده دمخه دپکتیا او پکتیکا ولایتونو دقوماندانانومحلی شوراگانو غونډه جوړه شوه اوپه خپله غونډه کې یې فیصله وکړه چې پر گردیز باندی به عمومی عملیات پیل کیږی اوهغه به دمحلی شوراگانو له خوا اداره کیږی ستاسی په نظر دا کار به څه گټې ولری؟

ځواب : پدی هکله زه دومره ویلای شم چې منحد جهادی عملیات چې په هر وخت اوهر ځای شروع کیږی هغه به دمجاهدینو په گټه وی .

دگردیز دعملیاتو په هکله هم زه وایم چې انشاالله دگردیز دعملیاتو لپاره مقدماتی کارونه ټول سرته رسیدلی اودهر اړخیزی حملی لپاره تیاری نیول کیږی.زه چې په دی هکله څه نظر لرم هغه دادی چې مجاهدین باید خپلو منځو کې اتحاد اواتفاق ولرئ ; لکه خوست باندی چې په اتحاد او اتفاق عملیات وشول ، داسی په گردیز باندی په اتحاد او اتفاق سره عملیات شروع کړی ، اودعملیاتو دشروع کولو سره سم دوی باید دټولو طرفونو دزرمت طرف ته ، دستهو کنډو له طرفه ، دسید کرم او تیری له طرفه ، پدی ټولو استقامتو باندی عملیات په یوه وخت باندی شروع شی او ددې شوراگانو گټه داده چې مجاهدین یوه اتفاق اواتحاد ته جلبوی اوپه گډه به عملیات پیل کوی .

پوښتنه : لکه چې تاسی هم اشاره وکړه په گردیز باندی عمومی عملیات پیل کیدونکی دی ستاسی دغونډ مجاهدین به پدی عملیاتو کې څومره برخه ولری؟

ځواب : څرنگه چې زموږ غونډ یو محاربوی غونډ دی او منظم تشکیل لری موږ مخکی لدی نه چې دگردیز عملیاتو ته تیاری ونیول شی دخوست تر فتحی وروسته زموږ دغونډ مجاهدین هلته دجگړی په لومړی خط کې ځای پر ځای دی هرکله چې دنورو خواو نه دعملیاتو پروگرام جوړشی ، زموږ دغونډ مجاهدین کاملاً اماده دی زموږ دتوپچی قواوی همدا اوس هلته ځای پر ځای دی دکشف دپاره مو لاری کتلی ، دترصد ځایونه مو ټول تعین کړی او هدفونه

> موږ ددي دولسو کلونو دجهاد په ترڅ کې داتجربه حاصله کړي چې ترټولو زیاته فایده موږ ته اتحاد اواتفاق رارسوي.

ټول تثبیت شوی دی ،چې څه وخت دنورو خواو نه عملیات پیل شی په عین زمان کې به زموږ غونډ په خپل استقامت کې په منظمه توگه خپلو هدفونو باندی برید پیل کړی ، او کوشش به وشی چې دفتح شویو ځایونو امنیت هم وساتی .

پوښتنه :

تاسی هم خبر یاست چې په دی وروستیو ورځو کې دروس او امریکا تر منځ پر مجاهدینواو مزدور رژیم باندی دوسلی دبندولو په هکله موافقه شوی ده ، ستاسی په نظر به دامسئله دمجاهدینو پر روحیاتو څه اغیره ولری ؟

ځواب : که څه هم زموږ اصلی اواساسی وظیفه په نظامی ډگر او سنگر کې ده ، ددښمن سره مقابله کول ، مجاهدینو ته نظامی تربیه ورکول ، اوپه نظامی ډگر کې دښمن ته ماتی ورکول دازموږ وظیفه ده ، خو دسیاسی حل په هکله دومره ویلای شم چې ترهغه پوری چې دنجیب رژیم نسکور شوی نه وی ، اودهغی په ځای دمجاهدینو په لاس اسلامي نظام جوړشوی نه وی زموږ جهاد بهٔادامهٔ ولری. دامریکا او روس ددی فیصلی په هکله باید ووایم چې زما په نظردادمجاهدینو په روحیاتو اودهغوی په جهاد باندی هیڅ ډول تاثیر نه

په(۷) مخ

جهادي ادب

هرکه عشق مصطفي سامان اوست
بحروبر درگوشه دامان اوست
سوز صديق (رض) وعلي (رض) از حق طلب
ذره عشق نبي (ص) از حق طلب
(علامه اقبال)

مبارک ميلاد

شفيقي

په نړی کې خوردنن په څير وحشت ؤ
خونريزی وه ، ځانځانی وه جهالت ؤ
عقيدی فاسدی شوی زړونه توروو
دالله په ځای دکانو عبادت ؤ
انس الفت له انسانانو ځنی هير ؤ
په خطر دورکيدوکې بشريت ؤ
دانسان وژل روا ، خوړل روا وو
بس وژل ، تړل ، لوټل وو بربريت ؤ
ټولنيز دوداودستورؤ ترپښو لاندی
سرکشی وه ، سرزوری وه ، بغاوت ؤ
سولی ، رحم او وفا وه کډه کړی
ګډوډی وه ، ظلم زور ؤ خيانت ؤ
ډوبيدونکی ښکاريدله په نظر کې
ډوبيدونکی ښکاريدله په نظر کې

په نړی کې څو ك حاكم ؤ څوك محكوم وو
څوك په ناز اوپه نعمت کې څوك محروم وو
څوك په عيش او هوسونو کې ستومانه
اودچا بيا نصيبونه هومره شوم وو
نړی نن غوندی په دووقطبونو ويش وه
څوك دفارس خدمتګاران وو څوك دروم وو
څوك هوس کې وو ډوب شوی ترکسکری
څوك دردونواو رنځونو کې مغموم وو
څوك دعيش اودعشرت په ميکدو کې
څوك دغم په سياچالونو کې معدوم وو
په عالم وه غوړيدلی دماتم شپه
يوغم نه ؤشمار يې نشی چې کوم کوم وو
ناڅاپی يوه رڼا وځليدله
سراسر ټوله دنيا وخوځيدله

دبشر خزان وهلی ګلستان کې
دژوندون غوټی نسيم ته په موسکا شوه
يوه نوی وړمه راغله له حجازه
له هوسه دنيا ګې په نڅيدا شوه
چې پرون ژوندی په خاورو خښيدله
نن دژوند زيری پری وشو په خندا شوه
دحق لمر چې سراپورته کړنړی ته
دتيارو او جهالت بو ډی رسوا شوه
امن راغی ، سوله راغله ، عدل راغی
ويره ترهه په سلګوشوه پوپناشوه
دقيصرتخت او بخت دواړه رانسکورشول
زلزله په هدو ګډه دکسراشوه
ملايکو زيری وکړل په آسمان کې
دنبيانو سالار پل کيښود جهان کې

دمکی په غرورغو کې انګازی شوی
داخری زمانی پيغمبر راغی
ځوريدلی غلامان په خنداسرشول
دنړی دمظلومانو رهبر راغی
دستم تياری يې وويشتی په وړانګو
پر نړی دانسانی ژوندون لمر راغی
داسلام جنډه اوچته شوه جهان کې
دشيطان دلښکر کورته خطر راغی
کاينااتو به ويل دحال په ژبه
شکر شکر خدايه ! خيرالبشر راغی
څه عادی خبره نه وه ستر ميلادؤ
خدای ستايلی په قران بختور راغی

بلغ العلى بكماله
كشف الدجى بجماله
حسنت جميع خصاله
صلو اعليه واله

ياصاحب الجمال ويا سيد البشر
من وجهك المنير لقد نور القمر
لايمكن ثناء كما كان حقه
بعد ازخدا بزرگ تويي قصه مختصر

ننګيالي او خاطري يې

په څيره کې يې له لويو حادثو اوخطرو سره دټکر ارادی موجونه وهی شوته پښنه دځپل شرف اوعزت نخښنه بولی ، خفه نه دی ، مايوسی نه پيژنی ، ددنيا ژوند لکه چې نيمګړی دی داسی يې ګڼی هم ، هغه ته که مايوسی دريږی ، که دخفګان وريځی ورباندی يرغل راوړی اوکه انديښمن کيږی يوازی په دی ارمان چې :
دننګياليو له ټولی بيل شوی.
دباروتو اوايمان دږغری له ډګره راوتلی
کاشکی روغ وای چې دکفر پرنورو مورچلونو هم ورختلی وای
پښنه يې روغه وای چې دجهاد په مورچل کې پروت وای
او... دهغه دتندی ګرښې او علامی اوس هم دهمدغسی ستری ارادی اوپاخه عزم رازونه وايی
خپل ځان داسی معرفی کوی :
نوم مې ګل مرجان دوزی ولسوالی ديعقوبی علاقه داری اوسيدونکی يم ، د ۱۳٦۱ کال راپه دی خوا دمولوی ميرداد سره په جبهه کې وسله وال جهاد کوم په ۱۳٦۹ کال دکوکرك په پوسته دتعرض په جريان کې ددښمن دمين دچاودنی په سبب ټپی شوم اويوه پښنه مې له لاسه ورکړه ...

محمد اخرزمان راغی دنيا ته
آسمان ځمکی ته خندل ځمکی سما ته
په طه اوپه يس باندی سرلوړی
دمعراج په شپه ختلی ؤ اسمان ته
په رښتيا چې خدای (ج) رحمت دی راليږلی
يو کامل قانون يې راوړ دی جهان ته
دظالم اويرغلګرپه مقابل کې
دقيام لاره يې وښوده انسان ته
وی يې سريی پری کوی چې پری يې نړدی !
چې يی بد کتل الله (ج) رسول ، قران ته
له ادمه تردی دمه مو دښمن دی
چې غوږ کيږدی غوښتنو دشيطان ته
که زما په پله موکيښودل پلونه
ځای مواوردی لوی خطر مودی ايمان ته
نن چې زموږ پر سر دغم له پاسه غم دی
درسول (ص) له قدمو ، مو کوږقدم دی

رحمة للعلمين

نوم مبارك پرې دځپل نيکه حضرت عبدالمطلب صاحب له خوا (محمد) کيښودل شو«ددېرې ستاينې او توصيف وړياډېر ستايلې شوې»
دموربې بې حضرت امنې (رض) لخوا پرې (احمد) نوم کيښودل شو.
« دالله تعالیٰ په نزد ترټولو څخه زيات حمد اوثنا ويونکی »
په قران کريم کې يې نوم مبارك (۱) اومحمد (ص) دالله تعالى رسول دي. (ال عمران ۱٤٤)
(۲) اومحمد (ص) په تاسي کې دهيچا پلار نه دي خو دالله تعالى رسول اواخري پيغمبر دي.
(الاحزاب ٤٠)
(۳) اوايمان راوړی په هغه څه باندې کوم چې په محمد (ص) باندې نازل کړاې شوې دی اودا دهغه درب له اړخه حق اوريښتوني دې .
(محمد ۲؟)
(٤) او زه زيرې درکوم تاسي ته ديو صادق اوريښتوني پيغمبر کوم چې به زما څخه وروسته تشريف راوړي چې نوم مبارك يې (احمد) دی
(الصف ٦)
زيږيدنه يې په (۹) درېيع الاول (عام الفيل) دفيلانو کال چې د (۲۰) اپريل (۵۷۱) م کال سره سمون خوري وخت دسهار (سپيده داغ) په مکه مکرمه کې .
پلار مبارك يې - حضرت عبدالله
مورمبارکه يې - حضرت امنه
دنيکه نوم يې عبدالمطلب اودغور نيکه نوم هاشم بن عبدالمناف دي.
دشيدويا تې ورکوونکي بيبيانی : ثويبه ، حضرت امنه او حضرت حليمه سعديه.
دټولو نه لومړې خبره چې نبی عليه السلام خوله مبارکه پرې پرانيستې ده دعمر په دوه کلنی کې داوه:
«الله تعالی له هرڅه نه لوی دې ، الله ډير لوې ذات دی دټولو نه زياته حمد و ثناالله لره ده »
روزنه اوپرورش يې دمور بې بې له وفات څخه وروسته نيکه حضرت عبدالمطلب اودنيکه له وفات څخه وروسته ابوطالب صاحب دحضرت علی (رض) پلار په غاړه اخيستی ؤه.
دکوچنی توب لوبی يې دبوتانوماتول نښخه ويشتل اودميږو څرول ؤ تجارتی سفرونه يې عمان ، يمن ، شام ، اوفلسطين ته کړی ؤ .
لومړی نکاح يې دحضرت خديجی (رض) سره دڅلورو سومثقالو سرو زرو په مهرسره ادا شوی وه دخديجې بې بې چې په طاهره ملقبه وه عمر پدی وخت کې ٤٠ کاله ؤ اودحضرت محمد (ص) عمر ۲۵ کاله وو.
دوحی نازليدل : دحرا غار دمکی مکرمې څخه دری ميله وړاندې دروژې دمبارکې مياشتی په ۲۷ نيټه ؤ پدی وخت کې دمحمد (ص) عمر ٤٠ کاله ؤ .
دغم کال : دحضور (ص) عمر مبارك (٥٠) کاله ؤ چې لومړی يې تره ابوطالب او وروسي يې لومړی بی بی مبارکه حضرت خديجه الکبرا په حق ورسيدل له دی کبله دغی کال ته حضرت محمد (ص) دغم کال ويلی دې .
دبعثت په ۱۳ کال يې مدينې مبارکې ته هجرت وکړ ، دهجرت په دويم کال دروژې مبارکې په ۱۷ دبدرغزا ، دهجرت په دريم کال دشوال په مياشت کې داحد غزا ، دهجرت په پنځم کال دخندق غزا اودمکی فتحه دهجرت په اتم کال پيښی شوی دي دهجرت په ۱۱ درېيع الاول په ۱۲مه په مدينه منوره کې له خپل پروردګار سره واصل شو .
درود اوسلام دی وې پرده اوپه اهل بيتو اويارانو يې .

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطري :

دمسلم ژباړه

قوماندان نیازی ته به می دروسانو دپوځی تاکتیك په باب خبری کولی تل به خوشحاله ؤ ، ماهغه ته وویل روسان ددریو کالو راهیسی افغانستان کی خپل پوځونه رازیاتوی دهمدی له امله دبګرام په هوایی ډګر کی زموږ دالوتکو ضد وسلو چلوونکو ملګرو شمیر چی ۷۰۰ ؤ اواوس ۱۲۰۰ تنو ته ورسید .

یو ځل ما هغه ته وویل چی یوه « ، ا ن ۱۲» ډوله ترانسپورتی الوتکه له افغانستان څخه دروسی پوځیانو دمړو جسدونو او زخمیانو وړلوته ټاکل شوی ؤ هغه ډیر خوشحاله شو ماته معلومه ده چی روس ته رسیدونکی داجسدونه په خلکو کی ویره پیداکوی ،

> خو کله چې مړي دخلکو کورونو ته واستول شول هغوي چې دمړو پر جسدونو دګولیو نښي ولیدي حیران شول.

یوه ورځ چی دوه سوه جسدونه «فرغانه » ته ورسیدل خلکو ته وویل شول چی داخلك دالوتکی دلویدو له امله وژل شوی خوکله چی مړی دخلکو کورونو ته واستول شول هغوی چی دمړو پر جسدونو دګولیو نښی ولیدی حیران شول ، په همدی ډول یوی صحنی کی چی موږ له یوی الوتکی مړی بلی ته انتقالول زموږ لوړ رتبه صاحب منصب وویل :

هرچاته ونه وایی چی دوی دافغانستان په جنګ کی وژل شوی په کومو ورځو کی چی زه دلیتوانیا په پوځی روزنی ځای کی وم ماته یوه لوړ رتبه صاحب منصب «قادروشیوف»وویل : له کومی ورځی چی دلیتوانیا اوافغانستان ته له تګ څخه سرغړونه کړی لوړو مقاماتو تصمیم نیولی چی کوم پوځیان افغانستان ته لیږدول کیږی هغوی به ترهغی بی خبره ساتی ترڅو چی افغانستان ته تلونکی الوتکی کی سواره شوی نه وی ، کله به چی افغانستان ته ورسیدل وبه پوهیدل .

دحکومت پالیسی دافغانستان په باب یوه ناکامه پالیسی ده دروسی خلك دخپلو مشرانو ترشاموجود نه دی ، که نه هغه قوم چی واښه او خاوره یی وخوړه اودماسکو اولینن ګراد نه په دفاع کی وجنګیدل اودهتلر په شان قوت یی مات کړ ، هغه دبی وزلو افغانانو په وړاندی څه وړ ماته خوری ، په حقیقت کی پر افغانستان باندی دروسانو حمله پر روسیی دهتلر حملی سره توپیر نلری دلته هم روسی قوم دخپلو هتلریانو ترځنګ نه دی اودافغانستان خلك داسی دسره پوځ په وړاندی یو موټی دی لکه چی دروسی قوم دهتلر پر خلاف و ، اخر کوم احمق به وی چی خپل زوی پلار ، یا میړه دیوه بی مقصده جنګ په اور کی دلرګیو په ډول وسوزوی ، خوزما په فکر دروسی مشرانو څخه زیات احمق هغه په نوم افغانی مشران دی چې دروسانو تالی څټی شوی دی .

په کومو ورځو چی زه په محمود راقی کی وم شپه او ورځ به می دکارمل دحماقت ډك ژوند په باب فکر کاوه هغه دهاکی دهغه لرګی په شان دی چی دنورو په لاس کی وی تردی دمخه دهاکی لوبغاړی دهاکی دوه نور لرګی (حفیظ الله اوتره کی) وغورځول خو کارمل نه داچی پرخپل حماقت مطمین دی بلکی فخرهم پری کوی اخریه روسان هغه هم وشړی خو داچی کله معلومه نه ده؟

> په کومو ورځو کې چې زه په محمود راقي کې وم شپه او ورځ به مې دکارمل دحماقت دډك ژوند په باب فکرکاوه هغه دهاکي دهغه لرګي په شان دي چې دنورو په لاس کې وي.

په دی ورځو کی زه دمجاهدینو په منځ کی یم ، دیوه داسی انسان په ډول چی پر ماغزویی بوج نه دی اوس خوښ نشته چی ما دغلط کارپر کولو مجبور کړی کله چی زه وګورم دهغو خلکو په منځ کی یم چی دازادی دلاری مبارزین دی یو عجیب احساس اوخوشحالی می دځان سره راونغاړی دلته ماته داسلام اودهغه داصولو په باب دلوستلو اولیدلو موقع په لاس راغلی زه به دهغوی په منځ ژوند وکړم اوکه امکان ولری دهغوی سره یو ځای به دظالمانو پرخلاف وجنګیږم .

خپل کور ته دتګ هیله زما په زړه کی موجونه وهی چیرته چی زما خور پلار اومور ژوند کوی خو زه دکی ، جی ، بی دلاسونو ته لویدل نه غواړم دمرګ اورسوایی څخه دابهتره ده چی زه کورته دتګ خوب ونه ګورم اودلته زه دکوم شی له کمښت سره مخامخ نه یم »!!

الیګزیندراندریویچ جرکوفسکی :

یوه روسی پوځی ددری کلن ماشوم سرپه برچی غوڅ کړاوبیا یی دهغه عکس اخیستل پیل کړل ، عکاسانو له دی موقع ګټه واخیسته او دوژل شوی ماشوم عکسونه یی له هری خواواخیستل ، داخونړی تصویر دروسی پوځ څخه دتښتیدونکی «الیګزیندراندریویچ جرکوفسکی » په یادونو کی هم ساتل شوی هغه په خپلو سترګو داخو نړی اودوحشته ډکه پیښه لیدلی هغه په دی ډول زیاتی پیښی دپروان په ولایت کی دعملیاتو په دوران کی لیدلی تردی چی دخپل ظالم پوځ اوقوم څخه یی کرکه پیداشوه .

«الیګزیندراندری » وویل : دیوی حملی په دوران کی چی زموږ تولی دپروان ولایت مرکز چاریکار ندزوك نومی کلی ته ورسید قوماندان امر وکړ چی دکلی ښځی اوماشومان ووژنی ! انسانان چی ختم شول زموږ پوځیانو پر حیواناتوبرید وکړ ، یوه پوځی چی یوماشوم دژړا په حالت کی ولید هغه یی په خپله برچه ذبح کړ او تردی وروسته یی دزړورتیا !!؟داصحنه عکاسی کړه .

کوفسکی کله چی دپوځی زندان څخه وتښتید مجاهدینو ونیوه دهغه عمر۲۱ کاله دی ، هغه دیوکراین ښاردپلوګی کی اوسیدونکی دی پلاریی په اورګاډی کی دنده لری اومور یی داورګاډی په روغتون کی دنرس دنده پرمخ بیایی هغه دپلوګی سیمی په متوسطی کی ترڅانوی زده کړو وروسته داورګاډی دماشینونو جوړولو په انیستیوت کی ځان شامل کړ ، په همدی دوران کی هغه دپوځی روزنی مراحل هم تیرکړل اودجنګی حالاتو چلول اودجنګی نقشو لوستل اوپوهیدل یی زده کړل ، د۱۹۸۰ کال په جون میاشت کې دفراغت سند دترلاسه کولو وروسته هغه دپوځی دندی سرته رسولو لپاره وغوښتل شو دریګا ښارڅخه تقریباً ۷۶ کیلومتره لری دلیتوانیا په پوځی مرکز کی دنورو ملګرو سره دټانګ اوموټرو چلول اوجوړول زده کړل .

دمخابری اونورو تبلیغی وسایلو تر زده کړی وروسته د۱۹۸۱ کال په می میاشت کې دلینن ګراد پوځی مرکز ته ولیږل شو د۱۹۸۱ میلادی په نومبر میاشت کی ریګا ښارته بیرته راغی اودسمبر په میاشت کې داورګاډی په وسیلی ترمز ښار ته ولیږل شو .

په ۱۹۸۲ کال په جنوری میاشت کی جرکوفسك دنورو ۳۶۵ تنو پوځیانو سره دپوځی موټرو په یوه کاروان کی دکابل خواته روان شو ، په لاره کی اتو هلیکوپترو دهغوی ساتنه کوله هلیکوپترو به په لاره کی دواړو خواو ته ډزی کولی ترڅو دروسانو پوځی کاروان روغ ، رمټ خپل منزل ته ورسیږی .

«نوربیا»

دسعادت په لار

زه ولې مسلمان شوم؟

درنو لوستونکو ! موږ پر پخوا دجهاد هنداری له لاری په دوو بیلابیلو ګڼو کې دعبدالله اوپار اواحمد ونیفر داسلام راوړلو په زړه پوری سرګذشت درته وړاندی کړی ؤ اوس دهمغی لړی په دوام دادی یو ځل بیا داسلام «له امن شرف اوعزت نه »ډکی غیږی ته دپناه راوړونکو نومیالیو کسانو په زړه پوری سرګذشت درته وړاندی کوو چی د«هم کیږن مسلمان هوبځ » په نوم یوه کتاب اونورو مستندو اوباوری منابعو څخه راغونډ شوی دی تاسو به وګوری چی دسلیم عقل خاوندان څنګه دخدای (ج) درحمت غیږی ته ځانونه رسوی اواسلام څومره سپیځلی اودبشریت له فطرت سره موافق دین دی چی دانسان ټولو مادی اومعنوی پوښتنو ته معقول ځواب وایی اودحل عادلانه لاره یې په ګوته کوی .

په درناوی ژباړن

ادواردوګیادا دانګلستان اوسیدونکی :

که څه هم زه په یوه کاتولیك مذهبه کورنی کې زیږیدلی یم ، خوما هیڅکله هم ددغه مذهب پیچلی اونامربوط عقاید نه دی منلی ، حضرت عیسی (ع) دوررور ګلوی اوانسانی همدردی تعلیم ورکوی خو چې کله دکاتولیکانو په کلیسا کې څوك دهغوی دمساوات او عدالت ننداره وکړی .

ډیری تیاری اودردناکی صحنی به ووینی ، امیران به په لومړی کتار کې صیلب ته نږدی په پستواوښایسته کرسیو ناست وی خو غریب اوبی وزلی کسان به ډیر لری په وچ ډاګ اویا دلرګیو په کرسیو کښینی ،زما باور دی چې که حضرت عیسی (ع) اوس بیا نړی ته راشی نودهغه دغه پیروان چې دده خبری واوری نو ضرور به یې داراویا کوم بل وژنتون ته کشوی .

دروم پاپان دحضرت مسیح (ع) دنیابت دعوه داران دی خو ددوی ژوند دسرو اوسپینو په لوښو کې تیریږی ، په وریښمینو جامو پټ دسمور پوست اغوستی اوپر سر له غمیو ډك تاج لوی پاپ په تخت ناست وی ، زرینی اوځلیدونکی دریشی په غاړه کې نوکران لاس په نامه شاوخواورته ولاړ وی ،ټول چاپیریال دعطرو خواږه بوی په وږمو کې پټ وی ، داننداره ربښتیا هم ظاهراً ډیره له دبدبی ډکه وی خو رښتیا چې په زړونوهیڅ ډول معنوی اغیزه نه شی غورځولی اونه داحالت دحضرت عیسی (ع) له لاربښونو سره اړخ لګوی .

کله چې دروم دسنت پیتر په کلیسا کی دکوم چاپه ویاړ کوم محفل جوړوی نوپه هغه کې دګډون لپاره په ګرانه بیه باید ټکټ واخلی ، په ټکټ چې کوم نهبر لیکلی وی په همغه کرسی به دټکټ خاوند کښینی ،اودابه داخستونکی دقیمت او مالی حیثیت سره اړوند وی ، دکلیسا تالار څو پوړیزه دی چې دامیرانو حاکمانواو عادی خلکو ځایونه معلوم دی .

ددی پر خلاف زه له پخوانه دجوماتونو له سادګی اویکرنګی نه ډیر اغیزمن وم ، اسلامي تمدن زما پر ذهن ډیرژور اغیز غورځولی ؤ خصوصاً دمسلمانانوشاعری اودمعماری فن زه ډیر ځان ته ورکشولم .

زما په ذهن کې دمذهب اودین په باب ډیری پوښتنی وی او همدغو پلټنو زه اسلام ته نږدی کړم ، ما دحق په لټون پسی دپخوانیو مذهبونو په مطالعه پیل وکړ ، بیا می هغه یو له بله سره پرتله کړل له دقیقی مطالعی اوڅیړنی وروسته په دی معتقد شوم چې اسلام رښتیانی دین دی اوپه قران کې هغه څه ټول موندل کیږی چې انسان ته دمعنوی ارتقا لپاره ضروری دی خوما بیاهم له خپل پلارنی دین نه دوتلو اوله خپل چاپیریال سره دټکر جرئت نه درلود .

په همدی تذبذب اوکشمکش وم چې یوه شپه می خوب ولید ، ما په یوه توپانی سمندر کې دژوند دبقا په خاطر له څپو سره ډغری وهلی ، دغه وخت می یو غږ واورید چې دسمندر دڅپو په توند غږ کې می رسا غوږونو ته رارسید چاپه زوره ویل : ته چا له ډوبیدو نه وساتلی ؟

ته په ایمان راوړلو کې ولی ځنډ کوی ؟! کله چې راویښ شوم ځان می دخپل مراد پر ساحل پلی ولید ، همغه سهار زه مسلمان شوم داسلام له قبلولو نه وروسته زه په وژلو هم وویرول شوم ، له ماسره ټولنیزی اړیکی وشلیدی خوڅه پروامی ونه کړه ، اوس زما وروستی هیله داده چې دخدای (ج) کور مکی معظمی ته ولاړ شم اوحج اداکړم ، ډیر ځله زه ځان دتخیل په پروازدحجاز ریګی بیابانونو ته ورسوم چی څلورو خواو ته می دسترګو تر لیدو پوری خړی دښتی غځیدلی وی او زه یوازی پکی ولاړیم همدارنګه زما تور پوستی اوغنم رنګی ښنیادمان ډیر خوښیږی«مراد یې دافریقا او عربوشبه جزیری اوسیدونکو څخه دی ژباړن » که زه هم تورپوستکی وای نو ډیر به خوښ وم له تورپوستکو اوغنم رنګوخلکو سره سپینی سپینی پګړی څومره ښی ښکاری ، که زه حاجی شم زه به هم همداسی ښه غوره کړم اوهغه به څومره ښکلی وخت وی.

ایا په منځني ختیځ کې دسولې دراوستو لارهمدا ده ؟!

دسیدشهریار ژباړه

په واشنګټن کې دځنو بې دینو اواسلام دښمنه عناصرو له خوا داکتوبر په میاشت کې (په منځنی ختیځ کې دسولې) په نامه یوه غونډه جوړیږي دغونډې درابللو اساسي مقصد اوهدف دفلسطین دمسلې له خاورو سره خاورې کول اواسرائیل پدغه سیمه کې دیوه بادار په څیر تثبیتول دي .

اسرائیلي ریاست په ۱۹۴۸ م کال په بې ګناه فلسطینیانو باندې په ظلم اوجبر وتپل شو چې لاتراوسه پورې دنړۍ پر مخ یوه مسلمان هم دزړه له کومي دهغې منلوته غاړه نه ده ایښې خو له بده مرغه اوس پدغه رابلل شوې غونډه کې

دحیرانتیا خبره خوداده چې دعربي هیوادونو مشران بې له کوم شرط اوغوښتنې څخه په تشوذهنونو پدغه غونډه کې شاملیږي نه له ځانه سره کوم پلان لري اونه کومه غوښتنه

دشام ، مصر اردن ، اواسرائیلو یو ځای ناسته پخپله پدې دلالت کوي چې نوموړو اسلامي هیوادونو پدغه پاکه سیمه کې دغه ناپاکه قدمونه ومنل .

دفارس خلیج عربي هیوادونو اولیبیا ته یې هم په غونډه کې دشاملیدو لپاره داستازو دګډون بلنې ورکړې دي .

ددغې غونډې دجوړیدو اساسي هدف په سیمه کې دلوی اسرائیلي مستحکم دولت جوړول اودفلسطیني هیواد خاورې کیدل دي.

دحیرانتیا خبره خو داده چې دعربي هیوادونو مشران بیله کوم شرط او غوښتنې څخه په تشو ذهنونو پدغه غونډه کې شاملیږي نه له ځانه سره کوم پلان لري اونه کومه غوښتنه .

خوددې ترڅنګ اسرائیل پر نورو دخپلو طرحو اوشرطونو دمنلو په هوډ پدغه غونډه کې برخه اخلي اسرائیل په نوموړې غونډه کې دیوه فلسطیني ګوند دمشر اوحتی دیوه فلسطیني مجاهد ناسته هم نشي زغملای اوکه کوم یو فلسطیني په غونډه کې کیني هم نو داردن په هیئت کې به دفلسطین دنمایندہ دنوم څخه پرته برخه اخلي .

داسرائیلو صدراعظم ایزاک شمیر چې په زرګونو فلسطینیان یې دخپل حق دغوښتنې په جرم په ډیرې بې رحمۍ سره شهیدان کړي دي نن فلسطیني مجاهدین ورانکاري بولي اوپه منځني ختیځ کې یې دسولې دښمنان ګڼي نو لدې امله ایزاک شمیر وایې :

په غونډه کې یو ورانکاري هم ځانته مخامخ نشم لیدای

امریکا ایزاک شمیر ته ډاډ ورکړې چې یو فلسطیني مشراو مجاهد به هم چې اسرائیلو ته دمنلو وړنه وي غونډې ته راونه بلل شي .

د(جیوشن کرانیکل) نومی ورځپاڼې پخپله د(۹) اګست په یوه ګڼه کې لیکي.

جیمز بیکر دامریکا دبهرنیو چارو وزیر له واشنګټن څخه په تیلیفون داسرائیلو صدراعظم ایزاک شمیر ته دخپلو خبرو اترو په ترځ کې وویل : فلسطینیانو ته اوس دخپلې بې وسۍ اومجبورۍ احساس شویدې اوهره لار پرې بنده ده هیڅ فکر مه خرابوه موږ هم ستاسې ګرد ایښې شرطونه دسر په سترګو منواوپه ټولو عربي هیوادو یې هم منوو .

اوس به نه دفلسطین کوم مشر غونډې ته پریښودل شي اونه به کوم بل فلسطیني ورانکاري !!

داسرائیلو دبهرنیو چارو دوزیر دوینا له مخې ویل شوي دي چې دغونډې درابللو څخه مخکې زموږ دایښو شرطونو په مقابل کې امریکا موږ ته څه ډاډ ونه راکړي. لومړې خو داچې روس به دغونډې دجوړیدو څخه مخکې اسرائیلی دولت په رسمیت پیژني .

دوهم : اسرائیل به دملګرو ملتونو د۲۴۲ لمبر پریکړې چې په هغې کې دنیول شویو سیمو دخوشې کولو غوښتنه شوې نه خوشې کوي

دریم داچې بش اودده ملګري به داخبره په نظر کې نیسي چې دملګرو ملتو دامنیت شورا له دغې غونډې څخه کومه متوازي غونډه جوړه نه کړي یعنې په واشنګټن کې دغه جوړه شوې غونډه به دعربو اواسرائیلو دشخړې دهوارې لپاره داسې یوه لارسنجوي چې له هره اړخه داسرائیلو په ګټه تمامیږي که څه هم دغه کار به دخلیج دجګړې په دوران کې دعربي هیوادونو سره دامریکاد شوې ژمنې له یوې مخې وعده خلافي وي ، څکه چې عربي هیوادونو ته وعده ورکړای شوې وه چې دخلیج دجګړې څخه وروسته به دامنیت شورا دفلسطین دشخړې په باب دشویو پریکړو په هره ماده له سره عمل او کار پیل کوي لکه څنګه چې دخلیج په جګړه کې وشول .

پدغه رابلل شوې غونډه کې بش ځنې نور امتیازات هم اسرائیلو ته وړپه برخه کړیدي چې په لاندې توګه یې په ګوته کوو.

لومړۍ ماده: په غونډه کې به دملګرو ملتو استازي

دغه تش په نوم دسولې غونډه به دفلسطین مسله دنړیوالې سطحې اودنړۍ داسلامي هیوادو له سطحې څخه هم راښکته کړي او یواځې دعربو اواسرائیلو ترمنځ دشخړې پورې به یې وتړي.

چوپه خوله ناست وي او هیڅ به نه وایې دده حیثیت به دملګرو ملتونو دعمومي منشي دځانګړي استازي سره برابر وي .

دویمه ماده : اروپایي نمایندګان به صرف دغونډې په افتتاحیه مراسمو کې برخه اخلي نور په غونډه کې دکیناستو اوخبرو کولو حق نه لري .

دریمه ماده : په غونډه کې به چاته دپریکړې کولو حق نه وی اونه به دبحث لپاره کومه موضوع تاکل کیږي .

څلورمه ماده : خبرې اترې به مستقیماً اوبې له کوم شرط کیښودو څخه کیږي په اخره کې به دسولې او امنیت یو تړون لاسلیک شي اوپه همدې ډول به په منځني ختیځ کې دسولې راوستو ضمانت ترلاسه کړای شي .

داهغه شرطونه دي چې امریکا او روس په ګډه سره په عربي هیوادونو تپلی دي څکه اسرائیلي مشرانو جیمز بیکر ته په ډاګه ویلي دي چې موږ به دعربي هیوادونو دمشرانو هیڅ هغه خبره ونه منو اونه به دهغود منلو ژمنه ورسره وکړو کوم چې زموږ سره دشویو ژمنواو ایښو شرطونو پرخلاف وي .

لنډه داچې داکتوبر تش په نامه دسولې راوستو غونډې ته اسرائیلي مشران صرف دشام ، مصر اردن ، اوپه (اردني هیئت کې شامل هغه فلسطیني نمایندګان کوموته چې اسرائیل دمنلو وړوي) په غیر دڅه شرط کیښودو دمخامخ خبرو اترو ته په داسې حال کې ورتلونکي دي چې دملګرو ملتو د۲۴۲ لمبر پریکړې موضوع مطرحه اوپه خبرو اترو کې شامله نه ده اونه ددغې پریکړې په اساس دغه غونډه رابلل شویده څکه ددغې غونډې اساسي مقصد دادې چې اسرائیل دهغو عربي سیمو کومې یې چې په نار واوو سره ترخپل تسلط لاندې کړې ددوی ملکیت وګرځوي څکه نه اسرائیل ددغونیول شویو سیموپریښودو ته تیار دی اونه به دې کار ته حاضر کړای شي چې نیول شوي ځایونه خوشې کړي .دغه تش په نوم دسولې غونډه به دفلسطین مسله دنړیوالې سطحې اودنړۍ داسلامي هیوادونو له سطحې څخه هم راښکته کړي او یوازې دعربو اواسرائیلو ترمنځ دشخړې پورې به یې وتړي نه به بیا پدې مسله نړیوالو ته دبحث کولو حق وي اونه به اسلامي هیوادو ته ، دا به صرف پر همدغو دواړو خواوو پورې وتړل شي .

دغونډې افتتاحیه وینا چې دوه ورځې به دوام وکړي اسرائیل به بې له کوم زیاراوهڅو په ډیره اسانۍ په رسمیت وپیژندل شي څکه

جیمزبیکر وویل فلسطینیانو ته اوس دخپلې بې وسۍ او مجبورۍ احساس شویدی هره لارپرې بنده ده هیڅ فکرمه خرابوه موږ هم ستاسې ګردایښې شرطونه دسرپه سترګو منو اوپه ټولوعربي هیوادو یې هم منو

اسرائیل به عربي هیوادو ته مخامخ په یوه میز کینول شي بیا به لدې څخه وروسته اسرائیلو ته له عربي هیواد سره په ځانګړې ډول دخبرو اترو کولوحق حاصل شي. دخبرو اترو دحق ورکولو څخه وروسته دخبرو اترو دغه لړۍ به دومره اوږده شي چې په لکونو روسي یهودیان به په فلسطین کې اباد کړای شي بیا به نو ورسره جوخت امریکا په دویمه مرحله کې دخپل پلان دوهمه برخه په کار واچوي په کومه کې چې دتیلو دولت څخه غني عربي هیوادونه دې ته چمتو کول دي چې داسرائیلو سره په اقتصادي پرمختګ کې دمرستو ورکولو چټک ګامونه پورته کړي ترڅو اسرائیل دنړۍ پر مخ یو قوي دولت شي .

دفلسطین دمسلې په غیر عادلانه توګه یو خوا کولو به جارج بش د۱۹۹۲ م کال انتخابات په ډیرو زیاتو رایو سره وګټي اوشاید دنوبل جایزه به هم تر لاسه کړي .

دامریکا دسفارتي اوپوځي کوښښونو اودفارس خلیج عربي هیوادو دمالي مرستو په اساس به اسلام دښمنه تیرې کوونکی ، غاصب ، صیهونی ریاست اسرائیلي رژیم دنړۍ پر مخ یو قوي اسرائیلي دولت وګرځي ددغو حقایقو له مخې باید اسلامي نړۍ خپله دکامیابی اوخلاصون لار وسنجوي اوفکر وکړي چې ایا دنړۍ په مخ دمسلمانانو اویا په منځني ختیځ کې دسولې دراوستو لارهمداده چې اوس روس ، امریکا ، هنداو اسرائیلو نیولې ده ؟

نن اسلامي هیوادونه په غړیدلو سترګو وینې چې کفري طاقتونه دافغانستان ، کشمیر اوفلسطین په شخړو لوبې کوي اوټول یې پر هغې خوا راکاږي چې داسلام دښمنو ګټې پکې نغښتې وي ایا اسلامي نړۍ به عربي هیوادوته دااجازه ورکړي چې داسلامي امت دغه ستره او مهمه شخړه پخپل سر هواره کړي هغه هم پداسې حال کې چې دټول عمر لپاره یې دخاورو لاندې کوي ؟

نن که مسلمان ځان وپیژني نو دنړۍ پر مخ یو لوی طاقت دی څکه دخلیج اسلامي هیوادونه هغه ټول وسایل په لاس کې لري چې دپرمختګ په لور پړاوونه پرې وهل کیدای شي اوهیڅ داسې نیمګړتیانه لري چې بل چاته دخیرات لپاره لاس وغزوي نوبیا دڅه شي اړتیا ده ؟ په دې حساسو شیبو کې دادهریوه مسلمان دنده ده چې دمسلمانانو دشخړو څخه خبر اوځان وېښ وساتي نن که دافغانانو په قربانیو باندې دخاور وراړولو ته اسلام دښمنه طاغوتیان پرېښودل شي سبا ته به دکشمریانو قربانۍ هم تر خاورو لاندې وي او همدارنګه اوسنۍ رابلل شوې غونډه هم دفلسطین مسله دخاورو لاندې کول غواړي اوداڅکه چې ګرد اسلام دښمنه طاغوتیان اسلام دځان لپاره ستر خطر ګڼي .

په پروان کې ددښمن ٦ پوستی ویجاړی شوی

پروان ، میدیا :
دپروان ولایت مجاهدینو دجبل السراج ولسوالی پر نظامی تاسیساتو عملیات وکړل چې په نتیجه کی ددښمن ٦ پوستی ویجاړې ، ٤ تنه عسکر اوملیشه مړه اودښمن ته درانده مالی تاوانونه واوښتل .

سیل مهاجرین جدید الورود به پاکستان ...

پشاور ، میدیا :
گزارش خبرنگاران میدیا از کمپ های مهاجرین در اطراف پشاور حاکیست درین روز ها یکبار دیگر بسیاری از خانواده ها از نقاط مختلف افغانستان بخصوص ازشهر کابل ، بصوب پاکستان در حال کوچیدن بوده امکان ان می رود که مناطق تحت کنترول رژیم از سکنه خالی گردد .
گزارش هامشعر است این خانواده های جدید مهاجرین راکه عدهٔ از انها در کمپ نواخیل جابجا شده اند عموماً زنان واطفال تشکیل میدهند و ازهرخانواده یکی دونفر در منطقه مانده بقیه بمناسبت هراس اززمستان راه پاکستان را در پیش گرفته اند .
خبرنگاران میدیا از قول عدهٔ ازمهاجرین تازه وارد به پاکستان اطلاع میدهند نا توانی مسوولین رژیم در تامین امنیت مردم بلند رفتن روز افزون قیم مواد اولیه و ترس ازاحتمال تکرار زمستان دو سال قبل که نسبت کمبود مواد سوختی پیشبینی می شود ، انگیزه مهاجرت این مهاجرین تازه وارد به پاکستان را تشکیل میدهد .
طبق اظهار انان خانواده های زیادی دیگری هم اکنون در راه رسیدن به پاکستان هستند ، این مهاجرین همچنان به خبرنگاران میدیا گفته اند هم اکنون درکابل کمبود شدید مواد سوخت محسوس است ومردم اثاثیه خانه وسایر امکانات حیاتی رابه بازار جهت فروش عرضه نموده اند تابابدست اوردن کمترین مصرف راه ، شهر کابل راترك گویند .
گفته میشود از ان جائیکه رژیم در تامین ضروریات مردم از بابت مواد سوختی برای زمستان اینده عاجز است ، در خروج مردم از شهر و مهاجرت به پاکستان کوچکترین واکنشی نشان نمیدهد واین بدان معنی است تا مردم باکوچیدن از شهر دست از سرمسوولین بردارند

صاحب منصبان بلند پایه اردوی رژیم ازوظیفه فرار می کنند

کابل ، میدیا :
به گزارش خبرنگار اعزامی میدیا از کابل جنرالان وسایر صاحب منصبان عالیرتبه قوای مسلح رژیم کابل که اخیراً به سبب شکست های پیهم مورال شانرا از دست داده اند ، به بهانه مریضی که یگانه راه فراغت از جنگ است از اجرای وظایف محاربوی در برابر مجاهدین شانه خالی کرده راه شفاخانه ها را بر می گزینند .
طبق گزارش جنرال عظیم زرمتی که از مدتها قبل در شفاخانه بستر است ، با وجود صحت یابی ، خود را همچنان درشفاخانه نگهداشته است .
همچنان جنرال نورالحق علومی ، که اخیراً بحیث نماینده خاصی نجیب رئیس رژیم کابل سمت والی کندهار را بعهده داشت با در نظر داشت وضع پریشان مالی رژیم بنام تداوی به روسیه رفته است .
تاکنون در انجا باقی مانده وطبق شایعه از امدن به کابل به بهانه جویی های مختلف ابا می ورزد .
خبرنگار میدیا می افزاید بسیاری از صاحب منصبان قطعات عسکری را ترك گفته با اخذ کارتهای رخصتی در منازل شان بسر می برند .
گفته شده که مسولین اردوی رژیم نیز باپی بردن ازین امر بغرض پیدانمودن اینگونه صاحب منصبان گروپ تفتیشی مرکب از قوای مسلح،گارد خاص ثارندوی ، وخاد تشکیل ودست به تلاشی منازل زده اند تا صاحب منصبان فراری را دریابند .
گفته میشودبرای چنین صاحب منصبان بهانه جو قطعه مخصوصی تشکیل ودرانجا جمع اوری وجزایی به جبهات جنگ اعزام میگردند

په گردیز باندی دمجاهدینو گډ عملیات پیل شول

ددښمن مرکزونو باندی دمجاهدینو ددرنو وسلو ډزی

پکتیا ، دجهاد هنداری خبریال :
دپکتیا ولایت دالحاج مولوی جلال الدین حقاني له جبهاتو څخه دیوه مخابروی رپوټ له مخی ویل شوی چې ددی ولایت پر مرکز دگردیز په ښار باندی دمجاهدینو گډ اوپراخ عملیات دتیری چهارشنبی په ۲۷ مه ورځ پیل شول .
په دغه خبر کې چې دحضرت عمر فاروق غونډ دقوماندان الحاج محمد ابراهیم له خوا راستول شوی ویل شوی چې دمجاهدینو ددرنو وسلو ډزو په واسطه دگردیز دامنیتی کمربند پوستو څخه ۱۳ تنه صاحب منصب او عسکروژل شوی ، ٤ عرادی موټر ،اوددښمن ډبی ، ام ۱۳ یوه دستگاه تخریب شوی .
همدارنگه خبر وایی چې دگردیز په سرك باندی دکابل رژیم ١٤ تنه پوځیان دمجاهدینو دډزو له امله وژل شوی او ۱۰ تنه نور ټپیان شوی دی .
دمجاهدینو پراخه بریدونه ددښمن پرمرکزونودوام لری .
دیویل مخابره شوی خبرله مخی مجاهدینو دسنبلی دمیاشتی په ۲۹ شپه دگردیز پر مرکز او دښار شاوخوا امنیتی پوستو باندی ددرنو وسلو ډزی وکړی چې دهغو په نتیجه کې دښمن ته دسراومال درانه تلفات وراوښتی دی .
خبر زیاتوی چې ددښمن له قواؤ څخه ٣٦ تنه عسکراو صاحب منصب وژل شوی او١٦ تنه ټپیان شوی دی .همدارنگه څلور عرادی ټانکونه ، لس موټر ، دوه ډبی ، ام ۱۳ دستگاه اوڅلور میله ٧٦ ملی متری توپونه تخریب شوی دی .ددښمن پر پوځی مرکزونو اوپوستو دمجاهدینو وقفوی مقدماتی عملیات ادامه لری اودعمومی حملی وخت رانژدی دی .

ماسکهای فریبنده ...

ومجاهد افغانستان رابه دور خویش جمع نمایند ویه مجرد همکاری به رژیم مزدور کابل وحزب وطن دربین مردم مسلمان افغانستان مانند خلقی ها وپرچمی ها منفور شدند روی این محلوظ چند روزپیش دستگاه پولیس مخفی (واد) رژیم کابل دست به تشکیل سازمان سیاسی جدیدبنام «سازمان تامین آزادی وحدت ودموکراسی » زد. درکمیته مرکزی این سازمان اشخاصی را انتصاب نمودند که بنام های خلقی وپرچمی شهرت نیافته است لاکن بعد از کودتا ۷ ثور تاحال همه اینها به تمام نیروامکانات خویش با رژیم دست نشانده کابل همکاری همه جانب نموده اند . چون روس ها بعد از کودتای هفت ثور اجنت های اعتمادی خویش را هر گز بنام های خلقی وپرچمی افشاء نساخته است پس چنین اشخاص رابايد درنقش های دیگر وچهره های دیگر بکاراندازند .
روس ها در نظر دارند که درصورت دولت وسیستم سیاسی احتمالی ایکه بعد از سقوط رژیم دست نشانده آنها در کابل بوجود می اید به اجنت هاوطرفداران خویش ماسك های فریبنده رابپوشانند تا بتوانند اهداف استعماری وشیطانی خویش رادر آینده نیز دنبال نمایند ویخاطر منافع خویش از نفوذ وحمایت لازم برخوردار باشند.روس ها بعد از این نیز اجنت ها وطرفداران خویش را تحت نام کمونیزم واشتراکیت نه بلکه زیر نام های اسلام،وطن ،آزادی ونظیر اینها ظاهر خواهند ساخت .
اکنون روس ها بیش از پیش به این مطلب پی برده اند که وحدت ویکپارچگی مردم افغانستان را میتوان از طریق دامن زدن به تضادهای قومی ، لسانی ، محلی و مذهبی خدشه دار ساخت واز ین طریق به نفوذ وبدست اوردن اهداف استعماری خویش فایق آمد.
پس باید مردم مسلمان ، بادیانت وکفر شکن افغانستان به هیچ نوع دسایس استعمار فریب نخورند وبخاطر استقرار دولت اسلامی آزاد ومستقل دراین خاك کمون شکن ماسك های فریبنده دشمنان اسلام وخاك اسلامی افغانستان راپاره نموده وارمان های بیش از یك ونیم ملیون شهدای راه حق راجامه عمل بپوشانند .

په هند کې دشیعه او سنی اختلافاتو ته لمن وهل کیږي

نوی ډیلی ،دسنبلی ۲۹ مه :
دهند حکومت پدی هیواد کې دمیشته مسلمانانو تر منځ دشیعه اوسنی په نامه مذهبی اختلافاتوته لمن وهی ، ترڅو دمسلمانانو پام دبابری جومات له مسلې نه واړوی .
دهند دعامه ارتباط وسایل (راډیو او مطبوعات) په پرله پسی اومنظمه توگه داسی خبرونه خپروی ترڅو دهغی له لاری دهند مسلمانانو ته وښیی چې په پاکستان کې دشیعه اوسنی ترمنځ نښتی روانی دی ، ترڅو په هند کې هم دغه ډول شخړو ته لمن ووهی .
دغه ډول تبلیغات ټخاص ډول داتراپردیش په ایالت کې کیږی چیرته چې دمتعصبو هندوانو (بهارتیه جنتاپارتی) حکومت دی .
دیادونی وړده چې داتراپردیش ایالتی حکومت دبابری جومات دړنگولو پریکړه هم کړی ده.

دوسلې بندول پر ...

نشی راوستلای دمجاهدینو سره چې کومه وسله ده اودهغی په اساس یې اول جهاد هم شروع کړی او کمونستانو ته یې ماتی هم پری ورکړی هغه وسله اوس هم زموږ سره ده چې هغه دایمان اوعقیدی وسله ده ، نو انشاالله دروس او امریکا دغه فیصلی دمجاهدینو پر کارونو کوم تاثیر نلری ، که امریکا پر مجاهدینو باندی وسله بنده کړی یانه ، دا په مجاهدینو هیڅ تاثیر نلری اوانشاالله دغه جهاد به تر هغه پوری ادامه ولری چې کمونستی رژیم نسکور شوی نه وی .
پوښتنه : تاسی دجهادی سنگردیوه قوماندان په حیث پر دښمن باندی دمجاهدینو دبریالیتوب لپاره څه شی ضروری گڼی ؟
ځواب : پدی حساس وخت کې ډیر مهم او لازمی شی چې باید دمجاهدینو سره وی هغه اتحاد او اتفاق دی ، موږ ددی دولسو کلو دجهاد په ترځ کې داتجربه حاصله کړی چې ترټولو زیاته فایده موږ ته اتحاد او اتفاق رارسوی ، که چیری دمجاهدینو اتحاد او اتفاق برابر شی ، نو انشاالله موږ دښمن ته ماتی ورکوو ، نو داویلی شم چې په اوسنیوشرایطو کې زموږ لپاره ډیر ښه تکتیك اتحاد او اتفاق دی اوکه موږ له دی تکتیك څخه کار واخلو نو انشاالله دښمن به راغورځیدلی وی او موږ به بریالی وو.
پوښتنه : په پای کې دجهاد په سنگر کې پرتو مجاهدینو ته خپل پیام وواياست ؟
ځواب : زما پیغام ټولو مجاهدینو ، مهاجرینو او مسلمانانو ته دادی چې په خپلو صفوکې اتحاد او یوالی راولی لکه مخکی می چې وویل له گډوډی اونفاق څخه لاس واخلی ، دښمن دماتی په حالت کې دی او دوی باید ددی حالت څخه پوره استفاده وکړی اوخپل عملیات ددښمن پر ضد نور هم گړندی کړی .

روس اوامریکا ظالم اومظلوم ...

پیغام لری ، مهربانی وکړی.
حقاني صاحب وویل : په اوس وخت کې زما پیغام په عامه توگه دگردیز غزنی ، کابل او ... سیمواوسیدونکو ته مخصوصاً دگردیز خلکو ته چې اوس دغلته دعمومی عملیاتو لړی پیل کیدونکی ده دادی چې دوی دخوست دخلکو په شان تراخری سلگۍ پوری ددښمن په سنگر کې دمجاهدینو پرضدونه جنگیږی، دخوست خلکو متاسفانه دهغوی شرایط په سمه توگه ونه منل ، مجاهدین ددوی اخری پوستو اومورچلونوګور سیدل اودوی لا مقاومت کاوه بیاهم مجاهدینو دوی ته دسر عفوه وکړه ، دمال په امن کې شرط داوو چې دوی باید مخکی دمجاهدینو له رسیدلو اوعملیاتومجاهدینو ته تسلیم شی ، خو تر ډیره حده داسی ونه شول .
په هر صورت دگردیز خلکو ته زما دا پیغام دی چې مخکی لدی نه چې دمجاهدینو په منځ کې شهیدان وشی اودوی ته تلفات وراوړی باید دوی مجاهدینو ته تسلیم شی .

دجهادپه پوځي ډګرکې نوي جذبه ...

همدغو فتحو اوسوبو دمجاهدینو روحیه اومورال لوړاودجهاد په پوځي ډګر کی یې مثبت اوفعال خوځښت راوست او زموږ مجاهد ملت ته یې داډاډ ور وباښه چې دروسانو دمزدور رژیم دپایښت شپې او ورځې نوری مخ په ختمیدو او هغه ورځ رانږدې ده چې دلوی خدای (ج) په نصرت اودمجاهدینو په غښتلیو متو دیو مخیزو عملیاتو په نتیجه کی رانسکور شی ، ځکه نو مجاهدینو ددښمن تر تسلط لاندی په یو شمیر سترو دولتی ارګانو اوپوځی مرکزونو دعمومی اوهراړخیزو حملو اوعملیاتو دسرته رسولو لپاره دیو لړ تیاکلیو پلانونواوطرحو له مخی چی دمخه یې پری دقوماندانانوسرتاسری شورا په غونډو کی غورااوژور بحثونه کړی وو دجهادی سنګرونو داکمالولو، د پخو مورچلونو اونورو لارو په جوړولو اوبرابرولو بوخت اوچمتو کیدل پیل شول. دی کار خامخا یو څه وخت ته ضرورت درلود ، اومجاهدین مجبور ووچی له یوی خواپردښمن وقفوی عملیات وکړی اوترڅنګ یې خپلو اکمالاتو ، ددرنو اوسپکو وسلو ځای په ځای کولو اودلارو چارو پلټلو اودپخو موضع ګانو جوړولو ته دوام ورکړی،بالاخره دغه مقدماتی کارونه پای ته رسیدلی اودعمومی اوهر اړخیزو حملو وخت رارسیدلی اوانشاءالله په نن سبا کی په نښه شویو سیمو عمومی عملیات پیل کیدونکی دی .

یوله هغو ځایونوڅخه چې اوس پری دمجاهدینو بریالی عملیات دپیل کیدو په حال کی دی ګردیز دی ، چې مخوست تر وياړمنی فتحی وروسته دمجاهدینو دعمومی برید اساسی هدف ګرځیدلی،مقدماتی لاری چاری برابری اومجاهدین پری حملی ته چمتو شوی دی .

په دغه لړ کی څو ورځی دمخه دالحاج مولانا جلال الدین حقانی په یوه جهادی مرکز دحضرت عمرفاروق (رض) غونډ کی دپکتیا اوپکتیکا ولایتونو دسیمه ایزوجهادی شوراګانو ترسلو تنو زیاتو مشهورو قوماندانانو غونډه وکړه اودحملی دامکاناتو اولارو چارو په هکله تر غور اوبحث وروسته دی نتیجی ته ورسیدل چی ټوله شورا دی په دوو برخو وویشل شی یوه برخه به دخوست دفتحه شوی سیمی دامنیتی چارود سمبالولو اوبله برخه به پرګردیز باندی دعمومی عملیاتو سوق اواداره په غاړه لري ، دسیمه ایزو شوراګانو په همدغه ګډه غونډه کی دګردیز دښار عامو اوسیدونکو اودښمن دقراو صاحب منصبانو،عسکرو اونورو مامورینو ته دیوی ګډی اعلامیی په ترڅ کی غوښتنه شوی اوداډ ورکړشوی چی دعملیاتو تر پیل کیدومخه دمجاهدینو ته راشی ، له بی ځایه مقاومت اووینی تویولو نه لاس واخلی،دوی ته عمومی عفوه اعلان اودسرومال امن یې تضمین دی .

لکه چی څرګند شوی ده دخوست دبریمنی حملی په څیر پرګردیز دعمومی عملیاتو لپاره دواکمنی شورا تر کنترول اواداری لاندی دعملیاتو ټولی خواوی دمجاهدینو ترمنځ ویشل شوی اودهر اړخ عملیات به دیوی سیمه ایزی شورا تر نظارت لاندی اجراءکیږی اوعمومی اداره به یې دلویی شورا له خوا کیږی چی په هغې کی به په عملیاتو کی دشاملو ټولوجهادی ځواکونو استازی موجود وی. ویل کیږی چی مجاهدینو په دی لړکی دګردیزدښار پر امنیتی پوستو لومړی مقدماتی حمله دتیری چهارشنبی په ورځ پیل کړه اوبیرته یې څو ورځی په دی خاطر ودروله که دښار اوسیدونکی او دمزدور رژیم په لیکو کی ولاړ افراد له عفوی څخه په استفادی سره ځان راګوښه کړی. انشاءالله عمومی عملیات اوهراړخیزه حمله ډیره ژر پیل کیدونکی ده .

همدغسی ترتیبات ددښمن پرنورو دولتی ارګانواوپوځی مرکزونو لکه ننګرهار ، غزنی ، قندهاراو... باندی هم دحملو اوعمومی عملیاتو لپاره نیول شوی ، مقدماتی کارونه پای ته رسیدلی اومجاهدین دهراړخیزی حملی لپاره چمتو دی .

دغه هر اړخیزی حملی په داسی وخت کی پیل کیږی چی روس اوامریکا دیوی ګډی پریکړی له مخی دافغانستان په جګړه کی دښکیلوخواوو ته دوسلو لیږلو باندی په بندیز لګولو موافقه کوی.

خو مجاهدین به چی دلوی خدای (ج) دمرستی په ډاډیې په تش لاس دایمان په وسله داعلای کلمة الله ، کفر ، الحاد اوفساد دله منځه وړلو او په افغانستان کی دیو اسلامی حکومت جوړولو په هیله دروسانو اودهغوی دمزدورانو پرضد جهاد پیل کړی دی ، ددغو هراړخیزو متحداو بریمنوعملیاتو سره ټولو نړیوالو ته داپه ثوګه ګری چی دنورو دمرستو ورکړه یانه ورکړه به دوی اغیزه نشی ګولای اونه یې له خپل عزم څخه راګرځولای شی اوچی الله (ج) ددوی مرستندوی دی،نو دوی ددی ځواك لري چې په سیاسی ډګر کی دجهاد په وړاندی دشرق اوغرب ګډ سازشونه اوتوطیی شنډی کړی او هم په پوځی ډګر کي ددین او وطن دښمنان له رسوا اوشرمیدلی ماتی سره مخامخ اوخپله اسلامی خاوره ددوی له ناولو قدمونوڅخه پاکه او شومی هیلی یې له خاورو سره خاوری کړی .

«ومن الله التوفيق»

مـولوی صـاحب مـحمد یونس «خالص » روسیی ته دمجاهدینو دهیات له تللو سره مخالفت څرګند کړ

مولوی صاحب وویل:کیدای شی په یوه دریم ګړی هیواد کی دمجاهدینو او روسانو تر منځ خبری اتری وشی

پیښور ، میډیا :

دافغانستان داسلامی حزب مشر مولوی صاحب محمد یونس خالص دسنبلی په ۲۸ مه په یو تلیفونی تماس کی دمیډیاخبریال ته دروسانو لخوا دمجاهدینو هیات ته دمسکو دسفر دبلنی په باب دهیات دسفر سره په مخالفت کی خپل رد عمل څرګند کړ.

مولوص صاحب خالص وویل : مسکو ته دمجاهدینو دهیأت سفر او روسانو سره په هغه ځای کی خبری کول له کابل رژیم سره (چی موږ ته اصلیت نلری) دروسانو د«۹ ـ ٤٠ »څخه دزیاتو لاسلیك شویو قرار دادونو دمنلو په معنی ده .

مولوی صاحب خالص زیاته کړه : پدی شرایطو کی له دښمن سره چی زموږ دهیواد ټولی شتمنی یې لوټ کړی تګ او راتګ دمنلو وړخبره نده .

هغوی دغه راز وویل : که روسان دمجاهدینو هیأت سره دخبرو اترو غوښتونکی وی او غواړی دافغانستان قضیه په عادلانه توګه حل شی نو ښه لاره به داوی چی دهغوی اودمجاهدینو دنمایندګانو تر منځ لیده کاته او خبری په یو بل دریم ګړی هیواد کی وشی .

بش یکبار دیگر به عراق اخطار داد

واشنگتن ، ۲۸ سنبله :

جارج بش رئیس جمهور امریکا یکبار دیگر به جکومت عراق اخطار داده که اگر به فیصله نامه های شورای امنیت سازمان ملل متحد در موردمعاینه مراکز اتومی عراق تن درندهد ، اقدام نظامی علیه ان کشور صورت خواهد گرفت .

جارج بش که در ایالت لاس انجلس امریکا با خبرنگاران صحبت می کرد آفزود که وی یقین دارد که حکومت عراق به هیأت سازمان ملل که به منظور تفتیش تنصیبات اتومی عراق مؤظف شده اجازه فعالیت آزاد خواهد داد .

دامریکا الوتکو ته پر عراق دالوتنی اجازه ورکړل شوه

دملګرو ملتو هیأت ته دنظامی مراکزو له ښودلو څخه دانکارپه صورت کی به الوتنی ترسره کیږی

واشنګټن ، دسنبلی ۲۹ مه :

دامریکی جمهور رئیس بش،دملګرو ملتو دامنیت شورا دتحقیقاتو ټیم دهلیکوپټرالوتکو دحفاظت لپاره دامریکنی جنګی الوتکو داستعمال اجازه ورکړی ده .

دغه امریکنیٍ الوتکی به یوازی په هغه صورت کی استعمالیدای شی چی دعراق حکومت دتحقیقاتی ټیم هلیکوپټرونوته دعراق دوژونکو وسلو دمراکزو دمعاینی اجازه ورنکړي .

دامریکا جمهور رئیس ویلی دی چی دعراق حکومت دملګرو ملتودتحقیقاتی ټیم په کارونوکی خنډونه اچوی ، اونه غواړی هغوی خپل تحقیقات بشپړ کړی ،ځکه نو دامریکا یو لړ جنګی الوتکی به سعودی عربستان ته ځی او دضرورت په وخت کی به دهیأت دالوتکو سره یو ځای دعراق په خاوره الوتنی کوی .

بل لوری ته دسعودی حکومت یوه ویندوی دغه اطلاعات غلط بللی چی دامریکی په زرګونو جنګی الوتکی به په ٤٨ ساعتو کی دسعودی په پوځی قرارګاوو کی کوزی شی .

دهیواد په تودومورچلو کی

کابل:

یك منبع جهادی درپشاور خبر میدهد یك طیاره بم افگن رژیم که همردیف طیارات دیگرمصروف بمباران مواضع مجاهدین در پغمان بود ساعت یك ونیم بعد از ظهر روز ۲۷ سنبله هدف دافع هوای مجاهدین قرار گرفته سقوط داده شد .

طبق اطلاع مذکور پیلوت طیاره که سعی داشت با استفاده از پراشوت خود رانجات دهد حین فرود آمدن بر اثراتشبار مجاهدین به قتل رسید .

ظرف هفته آخراین سومین طیاره بم افگن رژیم است که درنقاط مختلف کشور درجریان عملیات بافیر دافع هوای مجاهدین سقوط داده شده است .

کندهار:

دکندهار ولایت مجاهدینو دسنبلی په ۲٦ مه دکندهار ښار دشاه بازار په سیمه کی درژیم دڅارندوی په پوستو عملیات وکړل ، چی په نتیجه کی یوه پوسته فتحه ٦ تنه عسکر او ملیشه مړه ، دری تنه اسیر اویو شمیر نور هم ټپیان شول.

همدارنګه دیوه بل خبرله مخی دسنبلی په ٢٤ مه هم مجاهدینو دکندهار ښار دخاد په پوستو برید وکړ چی ددښمن ٤تنه عسکراوملیشه پکی مړه اویوه مستحکم سنګر یی له منځه لاړ.

لوګر :

دلوګر ولایت مجاهدینو دسنبلی په ۲٤ مه نیټه دیوه کمین په ترڅ کی دچهار آسیاب ولسوالی په مربوطاتو کی ددښمن ۸ تنه وژلی ، او ۱۸ نور یې ټپیان کړی ، او ٥میله کلاشینکوفونه یې ولجه کړی دي.

فاریاب :

دفاریاب ولایت څخه میډیاته رپوټ ورکړل شوی چی دفاریاب ولایت ددولت آباد په ولسوالیٍ کی درسول پهلوان اووکیل حبیب الله دملیشو ترمنځ تیره اونیٍ دخلکو نه دلوټ شوی مالونو دتقیسیم په سرسخته جګړه وشوه چی پکی درسول پهلوان ۲۵ تنه اودوکیل حبیب الله دملیشو ۱۵ تنه وژل شوی اویو زیات شمیرنوریې سخت ټپیان شوی دی ، جګړی دری ورځی دوام درلود .

همدارنګه دبادغیس له ولایت دغورماچ په ولسوالیٍ کی هم داځکزو اوموسی زود دقومونو دملیشه و تر منځ خپل منځی نښتی شوی چی ددواړو خواو څخه ۱۰ تنه وژل شوی اودهغوی داوسیدوکورونه ددواړو خواو له خوا ددړندو وسلو په ډزو ویجاړ اوله منځه تللی دی .

هرات :

په کویټه کی دمیډیا نمایندګیٍ دفراه ولایت نه رپوټ ورکړی چی دسنبلی په ٢٤ مه نیټه ددی لایت دشینډنډ په ولسوالیٍ کی دکابل رژیم یو ټولی ملیشه دتورن محمد رسول په مشریٍ له مجاهدینو سره یو ځای شوی دی .

دخبر مطابق دغی ډلی له ځانه سره یو میل هاوان ، یو میل راکټ یو جیب موټر ، یومیل پی کا، یو میل ٤٠ ډزی ، دوه پایی مخابره دیوی اندازی مهماتو او لوژستیکی موادو سره راوړی او مجاهدینو ته یی سپارلی دی .

دغه راز دیو بل خبر له مخی دسنبلی په ۲۲ مه نیټه دهرات اسلام قلعی دلاری په اوږدو کی درژیم دقواویوه پوسته فتحه او یوشمیرعسکراوملیشه له منځه تللی دی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جګړه کی ددښمن له قواو نه یو میل زیګویك ، یو میل راکټ ، شپږ میله کلاشینکوفونه ، دوه میله یوولس ډزی توپك ، یوه پایه مخابره اوپه مهاتو او لوژستیکی موادو بار یوه پوځی لاری ولجه کړی دی .

همدارنګه مجاهدینو دزنده جان په ولسوالیٍ کی دقلعه نو دسیمی پر پوستو برید وکړ چی په نتیجه کی درژیم دری تنه ملیشه مړه یو شمیر ټپیان او یوه پوځی لاریٍداور لمبه شوې ده.

امکان تشکیل یك کشور متحد اسلامی در اسیای میانه

(٥) جمهوری مسلمان نشین اسیای میانه کشور متحدی بنام ترکستان راتشکیل خواهند داد

لندن ۲۹ سنبله :

موضوع تعاون هر چه بیشتر سیاسی ،اقتصادی بین پنج جمهوریت مسلمان نشین آسیای میانه که ازادی خویش را از روسیه اعلان نموده اند ، اجندای سیاسی این جمهوریت ها راخیلی با اهمیت ساخته است ، از جانب دیگر رادیو «بی ، بی ، سی »گفته است که عدهٔ از این جمهوریت ها خواستار ان اند تا از اتحاد این ٥ جمهوریت یك کشور بزرگ و متحد بنام«ترکستان» را تشکیل نمایند .

رادیویی مذکور گفته است که این پنج جمهوریت ازحکومت مرکزی مسکو یا جمهوری فدراسیون روسیه انتظار هیچ نوع کمك راندارند ، ومسیر روابط خود باحکومت مرکزی شوروی راهم خود آنهاتعین خواهند کرد ، ولی گفته می شود که ضعف فعلی اقتصاد این جمهوریت ها شاید صد راه تشکیل یك ترکستان واحد ووسیع به این زودی گردد .

په لغمان کی ددښمن پر مرکزونو برید

لغمان ، دسنبلی ۲۵ مه :

دقوماندانانو شورادسیاسی دفتر دخبر له مخی مجاهدینو دلغمان ولایت دخراجه صاحب دسیمی پر پوستو برید وکړ درژیم دوه تنه صاحب منصب او ۳ تنه ملیشه یې له منځه یوړل .

اودوه عرادی زغروال ټانکرنه اودری عرادی جیپ موټری وسوځول .

دهیئت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا«ذهین بابري»